مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست
۲۰۲۴/۰۴/۲۷

# د پوهنتون خاطرې

## (۹)




د ازموينو لپاره د مهال ويش جوړول زموږ په واک کې و؛ خو ستونزه دا وه چې خپلو کې به سره په اسانه، نه جوړېدو. چا به ويل لومړی اسانه مضامين وليکئ او چا به د سختو پلوي کوله.
د کال اخري ازموينه مو په شديده ګرمۍ کې راغله. لوی اختر هم د ازموينو په منځ کې راته. اختر ته لا دوه درې ورځې پاتې وې چې ستونی مې خراب شو، تبه مې هم پر هډونو را ګډه شوه. ستونی مې ورو ورو تنګېده. حتا خبرې راته سختې شوې. يوه ورځ چې مې هنداره کې ور وکتل؛ بيخي له ځانه وډار شوم. بازار ته لاړم او په يوه درملتون ور ننوتلم. د جيب وضعيت مې لکه ستونی بيخي خراب و. درمل مې بيه کول؛ خو ټول قيمته ول. اخر مې هايدروجن پر اکسايد بيه کړ، نيوهيرم څلور که شپږ روپۍ و. درملتون والا راته په مسخره اميزه موسکا وويل: په همدې دې واره راغله! خدای شته، د مايوسۍ احساس مې وکړ؛ خو چاره نه وه. همدا بوتل مې واخيست او وخت نا وخت مې په اوبو کې اچوه او غر غره کاوه مې .
اختر مې هم په ناروغۍ کې تير شو. چې کله د اختر رخصتۍ خلاصې شوې؛ نو لومړۍ ازموينه مو د ليکوالۍ وه. دا مضمون ښاغلي استاد سيد محی الدين هاشمي تدريساوه. دې مضمون کې مو د ليکوالۍ فن په نوم کتاب لوسته چې خپله هاشمي صيب ليکلی و .
ازموينې ته په داسې حال کې روان شوم چې په سترګو مې توره شپه وه، د اتاق د دوه ملګرو په مرسته مې ورو – ورو ګام اخيسته. چې د ازموينې صحنه کې د استاد راپام شو؛ نو وارخطا مې خواته راغی. پوښتنه يې وکړه او بيا راته ويل: وضعيت دې ښه نه دی، ارام وکړه، چې هر وخت ښه جوړ شوې ازموينه ورکړه. ما ويل نه استاده، کتاب مې له ازموينې مخکې ښه سم لوستی. که خط مې ګډوډ و، هغه راته معاف کړه؛ نور مې زده دی. ازموينه پيل شوه. چې پرچې ته به مې کتلې ما ويل که سترګې مې رالويږي. په څه خوارۍ مې سوالونه ځواب کړل او پرچه مې استاد ته وسپارله. سبا، چې له استاد سره مخ شوم؛ نو يو څو نور ټولګيوال مې هم راسره ولاړ ول، استاد ويل: وګورئ، په کوم وضعيت کې يې ازموينه ورکړه؛ خو بيا يې هم له ټولو لوړه نمره (۹۱) واخيسته. استاد زما د تشويق لپاره څو نورې خبرې هم وکړې او زما د ناروغۍ بوج يې سپک کړ .
زموږ په ټولګي کې د استاد يو ورور سيد بديع الزمان هاشمي هم و؛ خو استاد په نومرو ورکولو کې د ورورۍ رشته بلکل له ياده غورځوله .
چې کله وطن ته راغلو؛ نو د ځينو محصلينو هغو کيسو ته به ډير حيرانيدم چې ويل به يې بعضې استادان د دې لپاره چې اولادونه او ورونه يې په کادر کې راشي او بيا استادان شي؛ نو دومره پريمانه نومرې ورکوي چې د نورو محصلينو حق هم خوري .
زموږ مهربان او خواخوږی استاد سيد محی الدين هاشمي چې هم ښه ليکوال و، هم ښه څيړونکی او هم د ښايسته خط لرونکی، تر ډيره ژوندی او سلامت وي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په خير و لولئ